د لوړو زده کړو وزارت
شیخ زاید پوهنتون
ژبواوادبیاتو پوهنځی
د انګلیسي څانګه

# د انګلیسي څانګې کتلاګ
# Department of English - Catalog

**تحصیلي کال ۱۴۰۳**

# لړلیک


د انګلیسي څانګې لنډه پېژندنه 1
د انګلیسي څانګې د آمر پیغام 1
د انګلیسي څانګې لنډه تاریخچه 2
لړلید (Vision) 2
رسالت (Mission) 2
ارزښتونه (Values) 3
موخې (Objectives) 3
د انګلیسي څانګې ښکېلي خواوې (ستیک هولډران) 3
د انګلیسي څانګې د استادانو پېژندنه 4
بنسټیز او غیربنسټیز امکانات او آسانتیاوې 6
د انګلیسي څانګې کتابتون 6
د څانګې څلورکلنې تحصیلې دورې کریکولم 8

# د انګلیسي څانګې لنډه پېژندنه

**سریزه:**

د افغانستان اسلامی امارت د لوړو زده کړو محترم وزارت، په پوهنتونو کې د تدریس د لا ښه کولو په موخه د تضمین کیفیت برنامې له لارې هر محصلي بنسټ په دې مکلف کړی، ترڅو د خپل بنسټ لپاره پلانونه او موخې ولري. دغه موخې باید د پوهنځي، پوهنتون او وزارت د ستراتیژیکو موخو سره سمې جوړې شي.

دغه برنامې، موخې او پروګرامونه باید په داسې توګه جوړ او پرمخ یوړل شي چې په اړونده رشته کې په علمي او عملي لحاظ کټور تمام شي، نو په همدې موخه د شیخ زاید پوهنتون ژبو او ادبیاتو پوهنځي انګلیسي څانګې خپله مرامنامه چې په لاندې ډول تشریح شویده تصوېبوي.

په لومړي برخه کې سربیره په سریزه د انګلیسي څانګې په مخینه بحث شوی دی په دوهمه برخه کې د ودانۍ او زیربنایي اړتیاوو په هکله بحث شوی دی. په دریمه برخه کې اکاډمیکې ځېړنې، علمي ځېړنې، په ټولنه کې د څانګې ښکېلتیا او اغېز او ټکنالوجي تر بحث لاندې نېول شوي دي. په څلورمه برخه کې ظرفیت لوړونه تر بحث لاندې نیول شوي ده او په پنځمه برخه کې مالي خپلواکي او بودیجې تر بحث لاندې نیول شوي دي.د څانګې تشکیلات او جوړښت تر بحث لاندې نیسي.

## د انګلیسي څانګې د آمر پیغام

د پخوا نه د انسانانو تر منځ د رابطې قایمولو او افهام او تفهیم لپاره ژبه استعمال شوې او مهمه دا ده چې په ټوله نړۍ کې د انسانانو تر منځ په سلونو ژبې ویل کېږي، چې په دې کې داسې ژبې هم شته چې مړې شوې دي، په بله معنی د تاریخ په اوږدو کې داسې ژبې هم شته چې د وخت په تیریدو سره یې ویونکي په تدریجي ډول کمیدل بالاخره د ویونکو شمیر یې ختم او ژبې یې مړې شوې دي. په اوسني وخت کې داسې ژبې هم شته چې ویونکي یې د وخت په تیریدو سره کمیږي. که چېرې مونږ خپل هیواد د مثال په ډول راواخلو، تر دیرشو پورې ژبې پکې ویل کېدلې، خو اوس دا تعداد ډېر را ټیټ شوی دی.

خو د بلې خوا نه په دې باید هم پوه شو چې داسې ژبې هم شته چې د وخت په تیریدو سره یې ویونکي په تدریجي ډول زیاتیږي. یو له هغو ژبو څخه انګلیسي ژبه ده چې د نورو ټولو ژبو په پرتله، ډېر ویونکي لري. د ویونکو د ډېرښت تر شاه یې ډېر علتونه دي، د مثال په ډول: د دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته د انګلیسي ژبې ویونکو په علمي ډګر کې ډېر پر مختګونه کړي دي، چې یو عملي مثال یې د ټکنالوجۍ برخه ده. په دې برخه کې د انګلیسي ژبې ویونکو ډېر کار کړی دی او همداسې نورو علمي برخو کې د دې ژبې ویونکو ډېر نوښتونه کړي دي. تر څو چې د دې پرمختګونو څخه استفاده وشي، نو د نورو ژبو ویونکو ته په کار دي چې انګلیسي ژبه زده کړي. په اوسني حالاتو کې انګلیسي ژبې ته د پرمختګ ژبه هم وایي، چې تر ډیره حده دا ادعا سمه هم بریښي. د پورته او دې ته ورته نورو علتونو ته په کتو انګلیسي ژبه د نورو ژبو په پرتله په نړۍ کې ډېر ویونکي لري.

انګلیسي ژبه د ځینو هیوادونو لکه د امریکا متحده ایالات، بریطانیه، کاناډا، استرالیا او داسې نورو د وګړو مورنۍ ژبه ده. او په ځینو هیوادونوکې انګلیسي ژبه د هغوی رسمي او د تدریس ژبه ده چې ښه مثالونه یې هند، پاکستان، نایجریا او داسې نور هیوادونه دي او همدارنګه بیا په ځینوهیوادونو کې د خارجي ژبې په حیث کاریږي. په تیرو لسیزو کې په افغانستان کې دانګلیسي ژبې ویونکو شمېر نسبت نورو هیوادونوته، ډیرکم وه، خو په تېرو دوو لسیزو کې یې شمېر ډېر زیات شواو همدارنګه د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې د نورو هیوادونو خصوصا د متحده ایالاتو او د اروپایي هیوادونو دلچسپي او د نوموړو هیوادونو سرمایه ګزارۍ د دې باعث شوه، چې په افغانستان کې د انګلیسي ژبې اهمیت نور هم زیات شي اونوموړي اهمیت د ژوند په مهمو برخو لکه په اقتصادي، سیاسي، فرهنګي او تعلیمي برخه کې راښکاره شوی دی. اوس د اسلامي امارت په راتګ سره د خارجي ژبو زده کړو ته لا پام زیات شوی دی چې یو د هغو له جملې څخه انګلیسي ژبه هم ده. سربېره پردې یې د انګلیسي څانګې د پرمختګ لپاره خپله توجه لا زیاته کړې ده.

پوهنمل سیف الرحمن رحماني

د انګلیسي څانګې آمر

## د انګلیسي څانګې لنډه تاریخچه

افغان پوهنتون نوی نوی له پېښوره خوست ولایت ته انتقال شوی و. د خوست اتوموسفیر لا د پوهنتون لپاره تیار نه و. په یو لنډ تنګ تعمیر کې څو ژمن کادرونه سره راټول وو او د هېواد د فکري روزنې او رغونې رښاوې یې وېشلې. د علمي ادرسونو په دود ګوته په شمار پوهنځي وو چې په دغه وخت کې انګلیسي څانګې د خپل خدمت ډېوې بلې کړې . دغه رڼایي له یوې ورځې ترې بلې ډېرېده، تر دې چې پر (۱۳۹۱ل) کال یې شغلو انشعاب وکړ او د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د بنسټ ډبره یې کېښوده.

هغه مهال د هېواد شرایطو ته په کتو یادې څانګې وړ امکانات نه درلودل؛ خو هغه څه چې دغه کښتۍ یې د نجات تر ساحله راورسوله، د موجوده کادرونو اخلاص او ژمنتیا وه. طبیعي ده چې کارونه به ټکني او ځنډن وو، خو ویاړ دلته دی چې یاده څانګه د کار له پیله کیفیت ته ژمنه ده او پر کمیت یې ترکیز کمرنګه دی.

په لومړیو کې د یادې څانګې د کادرونو شمیر د نشت سره برابر وه. هېواد له هره تورتمه، تنکیو ځوانانو دغې روښنايي ته پناه راوړه. د روښنايي دا مرکز له یوې ورځې بلې هغې ته د عروج او پرمختګ پر لور ګړندي ګامونه واخیستل. تر دې چې د رڼا سپرغیو یې د هېواد په ګوټ ګوټ کې ځلیدونکې ژوند وموند. یادې څانګې خپل ډېر لږ امکانات په سم ډول وکارول او په پایله کې یې په ۱۳۹۴ لمړیز کال یې لومړی دوره فارغین ټولنې ته وړاندې کړل او په روان کال کې چې کومه دوره فارغوي مسلسله آوومه دوره ده.

د پوهې بهیر له خورولو سره په موازي ډول د انګلیسي څانګې په بهبود کې هم ښه والی او بهتروالی راغی او د خپل خدمت ساحه یې پراخه کړه. یادې څانګې تر دې دمه په سوونو محصلین فارغ کړي دي او کابو د یو نیم سلو په شاوخوا کې محصلین اوس په یاده څانګه کې په زده‌کړه بوخت دي.انګلیسي څآنګه اوس مهال ټول ټال پنځه تنه استادان لري، اوټول پنځه واړه یې ماستران دي. یاده څآنګه په ډېر اخلاص او مینه د هیواد د بچیانو په روزنه کې خپل ځآن مکلف او مسول ګڼې او له خپلو درنو هېوادوالو هیله لري، چې د پرمختګ په نیت یې پر سالمو نیوکو او نظریاتو لا غنې کړي.

## د ژبو او ادبیاتو پوهنځي انګلیسي څانګې لرلید، رسالت، ارزښتونه او موخې: (۱۴۰۲-۱۴۰۶)

### لرلید (Vision )

**انګلیسي څانګه به د هیواد او سیمې په کچه د انګلیسي ژبې او ادبیاتو په برخه کې یوه مخکښه او د ښه شهرت لرونکې څانګه وي، چې د یادې ژبې په برخه کې به د هیواد د پرمختګ، هوساینې او ښه راتلونکې لپاره بااستعداده، مسلکي او د ښه احساس لرونکي محصلان وروزي. یاده څانګه به په ملي او نړیواله کچه ټول هغه علمي او فرهنګي ارزښتونه ته وده ورکړي، چې د اسلام مبین دین سره په ټکر کې نه وي.**

### رسالت (Mission)

**انګلیسي څانګه هڅه کوي؛ چې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په چوکاټ کې د ملي او نړیوالو اصولو او معیارونو په پام کې نیولو سره د محصلانو، استادانو او کار کوونکو لپاره د علمي پوهې د لاسته راوړلو لپاره زمینه برابره کړي، چې په پایله کې ټول علمي او فرهنګي ارزښتونه لاس ته راوړي. د دغې پوهې، نوښتونو او څېړنو په مرسته به وکولای شي د انګلیسي ژبې او ادبیاتو په برخه کې د هیواد د پرمختګ اوهوساینې لپاره کار وکړي او د وخت په تېرېدو سره به یاده څانګه په یو ستر علمي او تحقیقي مرکز بدله شي.**

**ارزښتونه (Values)**

**۱. د یوې سپېڅلي اسلامي روحيې پربنسټ  د وطن د ابادۍ او سوکالۍ لپاره د ځوان قشر روزنه.**
**۲. د یوې معیاري ژبې د عامولو په موخه له ټولو شته فرصتونو مثبته ګټه پورته کول.**
**۳. د اسلام مبین دین، ټولنیز کلتور او عقایدو په رڼا کې زده کړییز بهیر پرمخ وړل.**
**۴. له تخلیقاتو، نوښتونو او لاسته راوړنو څخه سالمه ګټه اخستل.**
**۵. د اکاډمیکي ازادۍ لپاره مناسبه فضاء رامنځ ته کول.**

**موخې (Objectives)**

**۱. ټولني ته د داسي مسلکي کادرونو وړاندې کول، چې د ټولني دیني ارزښتونو او ملي ګټو ته ژمن وي.**
**۲. دهیواد د هوسایني او پرمختګ او ښه راتلونکي لپاره نه ستړې کیدونکي هلې ځلې کول.**
**۳. د نورو نړیوالو او داخلي پوهنتونونو د ژبو او ادبیاتو پوهنځیو له اړونده څانګو او همدا راز په ملي او نړیواله کچه د بېلابېلو  ادارو سره نیږدې اړیکي ساتل.**
**۴.د پوهنتون د درسي نصاب په رڼا کې د با کیفیته او ارزښتناکه زده کړو وړاندې کول او د انګلیسي ژبې په برخه کې کې د داسي مسلکي کادرونه روزل، چې د نورو دندو ترڅنګ جامعي ته د یوه ښه او با استعداده استاد په صفت خدمت وکړي.**
**۵. د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د محصلانو فکري ودې ته ژمنتیا.**
**۶. دیوویشتمي پېړۍ د مهارتونو پر بنسټ د محصلانو مسلکي روزل ، چې ټولني ته د ښه خدمت مصدر وګرځي.**
**۷. محصلانو ته له هیواد څخه بهر د زده کړې زمینه برابرول.**

**د انګلیسي څانګې ښکېلي خواوې (ستیک هولډران)**

په لنډ ډول لاندې اشخاص او ادارې  د انګلیسي څانګې سره ښکېلې خواوې ګڼل کیږي

1. د ژبو او ادبیاتو پوهنځي رهبري
2. د انګلیسي څانګې ټول رسمي استادان
3. د ژبو او ادبیاتو پوهنځي نورې درې څانګې ( دري، اردو او پښتو)
4. د ژبو او ادبیاتو پوهنځي اداري کارکوونکي
5. د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست
6. برحال او فارغ محصلان
7. د انګلیسي ژبې انستیټیوتونه
8. سیمه ییزې رسنۍ (چاپي، غږیزې او تصویري)
9. د خصوصي سکتور اړوند اداري او سازمانونه
10. **UNICEF, CARE, IRC, MSF, NRC, WFP,ORCD**

# د انګلیسي څانګې د استادانو پېژندنه

| ګڼه | نوم او تخلص | تحصیل درجه | علمي رتبه | رشته | د تقرر نیټه | دنده |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | **سیف الرحمن رحماني** | ماستر | پوهنمل | دانګلیسي ژبې تدریس دوهمې ژبې په توګه | ۱۳۹۴/ ۶/ ۲۵ | دڅانګې آمر |
| ۲ | **هادی الرحمن هادي** | ماستر | پوهندوی | دانګلیسي ژبې تدریس او کریکولم | ۱۳۸۷/۷/ ۱۷ | استاد |
| ۳ | **محمد نواب شینواري** | ماستر | پوهنمل | دانګلیسي ژبې تدریس دوهمې ژبې په توګه | ۱۳۹۳ /۲ /۲۳ | استاد |
| ۴ | **ولي خان منیب** | ماستر | پوهنمل | دانګلیسي ژبې تدریس دوهمې ژبې په توګه | ۱۳۹۲ /۸ /۱۸ | استاد |
| ۵ | **حیات الله مومند** | ماستر | پوهنیار | دانګلیسي ژبې تدریس د نورو ژبو ویونکو ته | ۱۳۹۴ /۷ /۲ | استاد |
| ۶ | **شمس الرحمن ځدران** | ماستر | پوهنیار | دانګلیسي ژبې تدریس د نورو ژبو ویونکو ته | ۱۴۰۲/۸/۱۰ | استاد |
| ۷ | **عبد الرحمن تراب** | لیسانس | نامزد پوهنیار | انګلیسي ادبیات | ۱۴۰۲/۸/۱۰ | استاد |

**بنسټیز او غیربنسټیز امکانات او آسانتیاوې**

**تعمیر:** د انګلیسي څانګه ځانګړی تعمیر نه لري؛ په موجوده دوه پوړیزه ودانۍ کې، په یو اطاق کې ځای پر ځای شوي؛ په دویم منزل کې یوازې څلور درسي خونې په واک کې ورکړل شوې دي، چې په هغه کې هم د سهار له خوا څخه د پښتو څانګې محصلان درس وايي او د ماسپښین له خوا څخه د انګلیسي څانګې محصلان پکې زده کړې کوي.

**د انګلیسي څانګې کتابتون**

انګلیسي څانګه که څه هم د ځای د تشتون له امله کوم خاص کتابتون نه لري، خو په څانګه کې د مسلک اړوند یو څه کتابونه شتون لري، چې استادان او محصلان ورڅخه ګټه اخلي.



**د ځانګي ځلورکلني تحصيلي دورې کريکولم**

د انګليسي ځانګې کريکولم، په وروستيو کې تر يوه بريده متحد او اپډېټ شو. د اتو سمسترونو کريکولم، په لاندې جدول کې کتلی شئ.

**First semester** | **لومړی سمستر**

| No | Subjects | Code | Credits | مضا مين | Course Type |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Grammar | L.L.Eng-101 | 2 | ګرامر | Professional |
| 2 | Conversation(Listening and Speaking Skills) | L.L.Eng-102 | 3 | محاوره | Professional |
| 3 | Reading Comprehension | L.L.Eng-103 | 2 | لوستل | Professional |
| 4 | Composition | L.L.Eng-104 | 3 | ليکوالي | Professional |
| 5 | Study Skills | L.L.Eng-105 | 3 | دمطالعي مهارتونه | Professional |
| 6 | Dari | L.L.Eng-106 | 1 | دري | Professional |
| 7 | Pashto | L.L.Eng-107 | 1 | پښتو | Professional |
| 8 | Islamic Culture(Beliefs System of Islam) | SL.IC.0171 | 2 | اسلامي ثقافت (د اسلام اعتقادي نظام) | General |
| 9 | Islamic Culture(Recitation and Tajweed) | SL.IC.0172 | 1 | اسلامي ثقافت (تلاوت او تجويد) | General |
| 10 | Computer | L.L.Eng-110 | 1 | کمپيوټر | General |
| | | | 20 | | |

**Second semester** | **دوهم سمستر**

| No | Subjects | Code | Credits | مضامين | Course Type |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Grammar | L.L.Eng-201 | 2 | ګرامر | Professional |
| 2 | Conversation(Listening and Speaking Skills) | L.L.Eng-202 | 3 | محاوره | Professional |
| 3 | Reading Comprehension | L.L.Eng-203 | 2 | لوستل | Professional |
| 4 | Composition | L.L.Eng-204 | 3 | ليکوالي | Professional |
| 5 | Study Skills | L.L.Eng-205 | 2 | دمطالعي مهارتونه | Professional |
| 6 | Dari | L.L.Eng-206 | 1 | دري | Professional |
| 7 | Pashto | L.L.Eng-207 | 1 | پښتو | General |
| 8 | Islamic Culture(Worship System of Islam) | SL.IC.0273 | 2 | اسلامي ثقافت (د اسلام عبادتي نظام) | General |
| 9 | Islamic Culture(Biography of Prophet PBUH) | SL.IC.0274 | 2 | اسلامي ثقافت (سيرت) | General |
| 10 | History of Afghanistan | L.L.Eng-209 | 1 | د افغانستان تاريخ | General |
| 11 | Computer | L.L.Eng-210 | 1 | کمپيوټر | General |
| | | | 20 | | |

## 3rd Semester دریيم سمستر

| No | Subjects | Code | Credits | مضامین | Course Type |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Grammar | L.L.Eng- 301 | 2 | گرامر | Professional |
| 2 | Conversation(Listening and Speaking Skills) | L.L.Eng- 302 | 3 | محاوره | Professional |
| 3 | Reading Comprehension | L.L.Eng- 303 | 2 | لوستل | Professional |
| 4 | Composition | L.L.Eng- 304 | 3 | ليکوالي | Professional |
| 5 | Introduction to Language Teaching Methodology | L.L.Eng- 305 | 3 | دژبې د تدریس میتود پیژندنه | Professional |
| 6 | Dari | L.L.Eng- 306 | 1 | دري | Professional |
| 7 | Pashto | L.L.Eng- 307 | 1 | پشتو | General |
| 8 | Islamic Culture(Ethnic System of Islam) | SL.IC.0375 | 2 | اسلامي ثقافت (د اسلام اخلاقي نظام) | General |
| 9 | Islamic Culture(Social System of Islam) | SL.IC.0376 | 2 | اسلامي ثقافت ( د اسلام ټولنيز نظام) | General |
| 10 | Psychology | L.L.Eng- 309 | 1 | روانشناسي | General |
| | | | 20 | | |

## 4th semester څلورم سمستر

| No | Subjects | Code | Credits | مضامین | Course Type |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Grammar | L.L.Eng- 401 | 2 | گرامر | Professional |
| 2 | Conversation(Listening and Speaking Skills) | L.L.Eng- 402 | 3 | محاوره | Professional |
| 3 | Reading Comprehension | L.L.Eng- 403 | 2 | لوستل | Professional |
| 4 | Composition | L.L.Eng- 404 | 2 | ليکوالي | Professional |
| 5 | Principles of Literature | L.L.Eng- 405 | 3 | دادبیاتواساسات | Professional |
| 6 | Principles of Translation | L.L.Eng- 406 | 3 | دژباړې اساسات | Professional |
| 7 | Pashto | L.L.Eng- 407 | 1 | پشتو | General |
| 8 | Islamic Studies (Ideological Studies) | SL.IC.0477 | 2 | اسلامي ثقافت (فکري پوهنه) | General |
| 9 | Islamic Culture(Religion and Sects) | SL.IC.0478 | 1 | اسلامي ثقافت (اديان او مذاهب) | General |
| 10 | Psychology | L.L.Eng- 409 | 1 | روانشناسي | General |
| 11 | Dari | L.L.Eng- 410 | 1 | دري | |
| | | | 21 | | |

**5th semester** **پنځم سمستر**

| No | Subjects | Code | Credits | مضامین | Course Type |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | English Literature | L.L.Eng -501 | 3 | انګلیسي ادبیات | Professional |
| 2 | Translation | L.L.Eng -502 | 2 | ژباړه | Professional |
| 3 | Reading Comprehension | L.L.Eng -503 | 2 | لوستل | Professional |
| 4 | Composition | L.L.Eng -504 | 2 | لیکوالي | Professional |
| 5 | Principles of Teaching Methodology | L.L.Eng -505 | 2 | دتدریس اصول اساسات | Professional |
| 6 | Linguistics (Phonetics) | L.L.Eng -506 | 2 | ژبپوهنه (غږپوهنه) | Professional |
| 7 | Research | L.L.Eng -507 | 3 | تحقیق | Professional |
| 8 | Pedagogy | L.L.Eng -508 | 1 | پید اګوجي | General |
| 9 | Islamic Studies(Political System of Islam) | SL.IC.0579 | 2 | اسلامي ثقافت (د اسلام سیاسي نظام) | General |
| 10 | Islamic Studies (Administrative System of Islam) | SL.IC.0580 | 2 | اسلامي ثقافت (د اسلام اداري نظام) | General |
| | | | 21 | | |

**6th semester** **شپږم سمستر**

| No | Subjects | Code | Credits | مضامین | Course Type |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | American Literature | L.L.Eng -601 | 3 | امریکایی ادبیات | Professional |
| 2 | Translation | L.L.Eng -602 | 2 | ژباړه | Professional |
| 3 | Reading Comprehension | L.L.Eng -603 | 2 | لوستل | Professional |
| 4 | Composition | L.L.Eng -604 | 2 | لیکوالي | Professional |
| 5 | Research | L.L.Eng -605 | 3 | تحقیق | Professional |
| 6 | Linguistics (Morphology) | L.L.Eng -606 | 3 | ژبپوهنه(مورفولوژي) | Professional |
| 7 | Principles of Teaching Methodology | L.L.Eng -607 | 2 | دتدریس اصول اساسات | Professional |
| 8 | Islamic Studies (Economic System of Islam) | SL.IC.0681 | 2 | اسلامي ثقافت (د اسلام اقتصادي نظام) | General |
| | | | 19 | | |

**7th semester** **اووم سمستر**

| No | Subjects | Code | Credits | مضامين | Course Type |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Technical Writing | L.L.Eng- 701 | 3 | تخنيکي ليکوالي | Professional |
| 2 | World Literature | L.L.Eng- 702 | 3 | نړی ادبيات | Professional |
| 3 | Reading Comprehension | L.L.Eng- 703 | 2 | لوستل | Professional |
| 4 | Monograph Writing | L.L.Eng- 704 | 2 | مونوګراف ليکنه | Professional |
| 5 | Practical Translation | L.L.Eng- 705 | 2 | عملي ژباړه | Professional |
| 6 | Linguistics (Syntax) | L.L.Eng- 706 | 3 | ژبپوهنه (نحوه) | Professional |
| 7 | Teaching Methodology | L.L.Eng- 707 | 2 | دتدريس اصول | Professional |
| 8 | Islamic Studies (Quran and Contemporary Sciences) | SL.IC.0782 | 2 | اسلامي ثقافت (قرآن او معاصر علوم) | General |
| | | | 19 | | |

**8th semester** **اتم سمستر**

| No | Subjects | Code | Credits | مضامين | Course Type |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | Monograph Writing | L.L.Eng- 801 | 2 | مونوګراف ليکنه | Professional |
| 2 | World Literature | L.L.Eng- 802 | 3 | نړی ادبيات | Professional |
| 3 | Reading Comprehension | L.L.Eng- 803 | 2 | لوستل | Professional |
| 4 | Technical Writing | L.L.Eng- 804 | 3 | تخنيکي ليکوالي | Professional |
| 5 | Practical Translation | L.L.Eng- 805 | 2 | عملي ژباړه | Professional |
| 6 | Linguistics (Semantics) | L.L.Eng- 806 | 3 | ژبپوهنه (سيمنتيکس) | Professional |
| 7 | Teaching Methodology | L.L.Eng- 807 | 2 | دتدريس اصول | Professional |
| 8 | Islamic Studies (Islamic Civilization) | SL.IC.0883 | 2 | اسلامي ثقافت (اسلامي تمدن) | General |
| 9 | Protection of Environment | L.L.Eng- 809 | 1 | چاپيريال ساتنه | |
| | | | 20 | | |